مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د جون دویمه | ۷۲۶مه ګڼه

# د سولې نامعلوم برخلیک، د جګړو او کډوالۍ اوج؛

## ملګري ملتونه: نړیواله ټولنه دې د جګړو له بې ځایه شویو افغانانو سره بېړنۍ مرستې وکړي



۳

دواړه لوري د خبرو پیل ته تیار دي، خو څه ډول؟
۲ مخ


راځئ! واکسین عامه تولید وګرځوو
۲ مخ

افغان ولسمشرانو تېره لسیزه کې ۷ زره دولتي مډالونه او نښانونه وېشلي
۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

## انسان د مانا په لټون




انسان د مانا په لټون د ویکټور فرینکل اثر دی، چې د نوموړي د ژوند دردوونکې خاطرې بیانوي او هم په بې زغمه ستونزو کې پر ښکېلېدو سربېره د هیلو، انسانیت او ازادۍ په لټه کې پاتې کېږي.

## مالیې وزارت: په کندهار ولایت کې په لومړي ځل د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکز پرانیستل شو



مالیې وزارت وایي، چې په کندهار ولایت کې په لومړي ځل د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکز پرانیستل شو. د دغه وزارت ویاند رفع تابع وایي، د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکز په پرانیستلو سره به ټول سوداګریز توکي چې له هېواده بهر صادرېږي او دغه راز د ملي سوداګرو او خصوصي سکټور د توکو پړاوونه ترسره کول، تر یوه چتر لاندې ترسره شي.
د هغه په خبره، د دې ترڅنګ به له دغه مرکزه د ګټې اخیستنې په صورت کې سوداګرو ته ګڼې نورې اسانتیاوې هم برابرې او د بیروکراسۍ کچه به تر ډېره راښکته شي.
د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، افغان حکومت په پام کې لري چې د صادروونکو لپاره د اسانتیاوو برابرولو سیستم د هېواد په سترو زونونو کې جوړ کړي، چې پرانیسته یې د کندهار له ولایته پیل شوه او له دغه ځایه به نورو زونونو ته هم وغځېږي.

## د ترانسپورت د انسجام شورا: د بار وړونکو وسایطو عواید د دولت بودجې ته نه ځي

د افغانستان د ترانسپورت د انسجام او همغږۍ شورا چارواکو په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال خپلې ستونزې او د فساد په اړه اندېښنې له رسنیو سره شریکې کړې.
د دې شورا مشر طلا محمد اتمانزی د اسنادو له شریکولو پرته ادعا کوي، چې لاهم د مسافر وړونکو او ساختماني یا بار وړونکو وسایطو عواید د دولت بودجې ته نه ځي.
اتمانزي زیاته کړه: «دوې برخې چې یو ساختماني او بل مسافر وړونکي وسایط دي، لا هم پاتې دي، ترانسپورت وزارت په دې کې ۷۰ یا ۸۰ سلنه حیف او میل او خیانت کوي، دا ملي عواید او سرمایه ملي بودجې ته نه تحویلوي او خپلو شخصي جیبونو ته یې اچوي، دوی د ترانسپورت د قانون له مخې مکلف دي چې موږ ته ترمینلونه جوړ کړي، نورې اسانتیاوې راته برابرې کړي، زموږ د پرمختګ او ملاتړ لپاره کار وکړي، خو دوی اساسي قانون نقض کړی، د بودجې د مصرف ظرفیت نه لري.»
اتمانزی ادعا کوي چې د ترانسپورت وزارت په رهبرۍ کې مسلکي کسان نشته او په خبره یې، که ولسمشر د یاد وزارت وزیر له دندې لېرې نه کړي، دوی به یې پر وړاندې په مدني حرکتونو لاس پورې کړي.
خو د ترانسپورت وزارت چارواکي دغه ادعاوې ردوي او وایي چې ټولې چارې یې رڼې، اصولي او د قانون پر بنسټ روانې کړې دي. د دغه وزارت ویاند حکمت الله قوانچ وایي چې د دې شورا مسوولین دې خپله دا ادعا په اسنادو ثابته کړي.

## یونیسف: افغانستان لاهم د ماشومانو لپاره تر ټولو بد هېواد دی



۲ مخ

## وزارت صحت عامه: در ۲۴ ساعت گذشته ۳۳ بیمار کرونایی در کشور جان باخته‌اند



وزارت صحت عامه اعلام کرده است که در شبانه‌روز گذشته ۳۳ بیمار کرونایی در کشور جان باخته‌اند. این بلندترین رقم میزان فوتی ناشی از کرونا در کشور از زمان شیوع این ویروس است.
به این ترتیب شمار قربانیان ویروس کرونا در کشور به سه هزار و هفت تن رسیده است. طبق اعلام وزارت صحت عامه، یک هزار و ۴۵ بیمار جدید نیز در شبانه‌روز گذشته از آزمایش سه هزار و ٦۱۴ نمونه مشکوک به کرونا، شناسایی شده‌اند.
در شبانه‌روز گذشته ۱۱۲ بیمار کرونایی صحت‌یاب شده‌اند.
روز گذشته ۳۰ بیمار کرونایی در کشور جان باخته و یک هزار و ۵۴۵ بیمار جدید شناسایی شده بودند. این رقم بلندترین میزان ابتلا به ویروس کرونا از زمان شیوع این بیماری در کشور بوده است.
اما ثبت مرگ ۳۳ بیمار کرونایی در شبانه‌روز گذشته بلندترین رقم مرگ‌ومیر ناشی از کرونا در کشور است.
در عین حال آمارهای پوهنتون جانز هاپکینز نشان می دهند که شمار مبتلایان به ویروس کرونا در جهان به ۱۷۱ میلیون و شمار جان باخته گان ویروس کرونا به بیش از سه میلیون و ۵۵۰ هزار تن رسیده است که بیشترین آمار در امریکا به ثبت رسیده است.

## فروش زمین



یک قطعه زمین به مساحت {9080 متر مربع} واقع قرغه {ناحیه 5 ، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

سرلیکنه

## دواړه لوري د خبرو پیل ته تیار دي، خو څه ډول؟

پرون لـه کابل څخـه د افغـان حکومت د مذاکـراتي ټیـم ځینـي غـړي د خـبرو د بیا پیل لپـاره دوحـې تـه ولاړل او پاتـې غـړي بـه هـم په څـو ورځـو کې دوحـې تـه ورشي. حکومت وایي چـې پـلاوی یې له تیـاری سره دوحـې ته ورغلی او طالبـان هـم وایـي چـې دوی له وړانـدې خبرو تـه تیار دي او خبرې پـه ژر وشي. معلومـه نه ده چـې د خبرو اجنـډا بـه څـه وي؟ له کومـه ځایه بـه پیـل کېـږي او دا خـبرې بـه لـه پخوانیو خبرو سره څـه توپیـر ولـري؟

د افغـان دولـت پلاوی په داسـې وخـت کې قطر تـه ورځـي چـې پـه دواړو اړخونـو پـراخ کـورني او بهـرني فشـارونه دي چـې د سـولې خـبرې بیـا پیـل کـړي او جګـړه کمـه کـړي. د جګـړې په دې شـدت کې د سـولې د خبرو پیل خو به یا یوازې دغـو فشـارونو تـه یـو ډول ځـواب وي او یـا به هم دا خـبرې پـر جګـړه اغېـز ولـري، تاوتریخوالـی بـه ورسره کـم شي او پـه خـبرو کـې بـه مثبت پرمختـګ وشي. د ښـکېلو اړخونـو لـه کړنـو او دریځونـو ښـکاري چـې دوی یـوازې غـواړي چې فشـارونو تـه ځواب ووایـي او نور تیار نـه دي چې د سـولې پـه خـبرو کې مثبت پرمختـګ وشي. د خلکـو تمـه بیا دا ده چې دا نـور د خبرو او عملي کړنـو ترمنځ واټـن ختـم شي، دواړه اړخونـه دې جـدي او پرېکنـده خـبرې وکـړي. دا ځل خبرې بایـد یـوازې د وخـت د ضایـع کېدو او د فشـارونو د کمېـدو پـه موخه نـه وي. دا ځل خـبرې دې د پرمختـګ، توافق او سـولې ته د رسـېدو لپاره وي. دواړه اړخونـه دې د سـتونزمنو او پېچلـو مسـایلو پـر ځـای پـر هغو مسـایلو خـبرې او بحث وکړي چې په اسـانۍ توافق پرې کېدلـی شي. د خبرو لـه پیـل سره سـم بایـد تاوتریخوالی کـم شي، په خبرو کـې لـه پرمختـګ سره بایـد تاوتریخوالـی نـور هـم راکـم شي او یـو اساسي پرمختـګ باید اوربنـد تـه لاره هـواره کړي. که ښـکېل اړخونه پر داسـې مسـایلو تمرکز وکړي چې دواړه اړخونه په اسانۍ پـرې توافـق کولـی شي، نـو د پرمختـګ تمـه هـم کېدلـی شي، خو کـه ښـکېل اړخونه د پخوا په شـان په لانجمنو او سـختو مسایلو بحث کـوي او بیـا پر خپلو دریځونو هـم ټینګار کوي او آن دربیمـه او منځنـۍ حللاره هـم نه مني، نو بیا نـه پـه خـبرو کـې د پرمختـګ چانـس شـته او نه هـم د خلکو هیلـې پـوره کېدلـی شي.

دواړو اړخونـو تـه پکار ده چـې نـور د بـې وزلـو افغانانـو درد او غـم تـه وګـوري او زیـات یـې نـه کـړي. د جګـړې اوږدول او د سـولې پـه لاره کـې خنـډول بایـد نـور ودرول شي. پـکار ده چـې پـر ولس رحم وکړي او دواړه اړخونه دا ځل د سـولې لپـاره جدي، صمیمي او پرېکنـده خبرې وکړي. دا ځـل بایـد وخـت ضایـع نـه شي، خـبرې باید رغوونکـې وي او پایلـه ولري. که دا ځل هم د تېر بـه شـان وخـت ضایـع کېـږي او یـوازې د خلکـو سـترګو کـې خـاورې شـیندل کېـږي، نـو بیـا بـه دواړه اړخونـو د خلکـو پـر وړانـدې پړه وي او دوی بـه د ټولـو هغـو وژنـو ځـواب وایـی چـې د روانـې جګـړې لـه املـه رامنځ تـه کېږي.

# راځئ! واکسین عامه تولید وګرځوو

لیکنه: فرشته
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

د روغتیـا ۷۴مـه نړیوالـه غونـډه د مـې پـه ۲۴مـه پـه انلایـن بڼـه پرانیسـتل شـوه، چـې څـو ورځـې یـې دوام وکـړ. د دغـې غونـډې عمده موضوع د کرونا وبـا ضـد مبـارزې پـه برخـه کـې د کاري تجربـو پـه تمرکـز ورټولـه وه او د دغـې مبـارزې د ژر پـای تـه رسـېدو، د یـوې پرمختللـې او خونـدي نـړۍ د جوړولـو او د راتلونکـي احتمالي وبـا پـر وړانـدې د مقابلـې د تیـاري پـه اړه بـه پکـې بحثونـه وشي.

د روغتیـا نړیـوال سـازمان خبر ورکـړی، چـې کرونا وبـا ټولـو هیوادونـو، پـه تېره بیـا کمـزورو او وروسـته پاتـې هېوادونـو تـه سخت او سـتر زیانونـه رسولي دي. د اړونـدو شـمېرو لـه مخـې، لـه تېـر کال راهیسـې پـه ټولـه نـړۍ کـې پـر کرونـا وبـا د اختـه کسـانو شـمېر ۴۰ ځلـه او لـه دې املـه د مړه شـویو کسـانو شـمېر ۱۱ ځلـه تـر رسـمي شـمېرو زیـات ښـودل شـوی دی.

اوسـمهال تـر ټولـو بیړنـۍ مسـئله دا ده، چـې د بېلابېلـو هېوادونـو تـر منـځ د واکسـین نابرابـر ویـش پـای تـه ورسـیږي، کـه پاملرنـه ورتـه ونـشي، ښـایي کرونـا وبـا لا سـخته شي او د ټولـې نـړۍ بیـا سمسـورتیا تـه بـه سـخت ګـواښ ورسـوي.

د روغتیـا نړیـوال سـازمان عمومـي مـشر تیـدروس ادهانـوم پـه یـوه خبري ناسـته کـې وویـل، چـې د کوویـډ-۱۹ د واکسـین د نابرابر ویـش لـه املـه بـه دغـه وبـا لا سخته شي او دوام بـه پیـدا کـړي. کـه واکسـین پـه مسـاویانه او برابـره توګـه وویشـل شي، نـو پـه نـړۍ کـې د واکسـین اوسـنۍ انـدازه ټولـو طبـي کارکوونکـو او پاخـه عمر لرونکـو تـه کافي ده.

د چیـن د دولـت رییـس شي جیـن پینـګ د مـې پـه ۲۱مـه د روغتیـا پـه نړیوالـې سرمشریـزې غونډې کـې وویل، چـې د ډېـرو هېوادونـو لپـاره د کرونا ضد واکسـین د ویـش نابرابـري د پاملرنـې وړ مسـئله ګرځېدلـې ده، نـو بایـد د واکسـین نېشـنلېزم لـه تګلارې څخـه لاس واخیسـتل شي، څـو پرمختیایـي هېوادونـه تـرې لا زیاتـې ګټـې واخلـي.

لـوی هېوادونـه بایـد خپـل مسـوولیت ادا کـړي او اړینـو پرمختیایـي هېوادونـو تـه دې لازیـات واکسـین برابـر کـړي.

چیـن د تېـر کال پـه مـې میاشـت کـې اعـلان وکـړ، چـې د کوویـډ-۱۹ ضـد واکسـین بـه پـه ټولـه نـړۍ کـې عامـه تولیـد وګرځـوي. دغـه هیـواد تـر اوسـه پـورې څـه د پاسـه اتیـاوو پرمختیایـي هېوادونـو تـه د کوویـډ-۱۹ ضد واکسین برابر کـړی او څه د پاسه پنځوسـو هېوادونـو تـه یـې یـاد واکسـین صـادر کـړی دی. د روغتیـا نړیـوال سـازمان څـه مـوده مخکـې د چیـن سـینو فـارم واکسـین د بیړنیـو حالاتـو د اسـتفادې لېسـت کـې شـامل کـړ، لـه دې مالومیـږي چـې د چیـن واکسـین د ټولـې نـړۍ لپـاره او د نړیوالـو پـه خدمـت کـې دی.

د سـنېګال، یوګانـډا، مـصر، مکسـیکو او نایجـر پـه ګـډون د ځینـو هېوادونـو اسـتازو د روغتیـا پـه ۷۴مـه نړیوالـه غونـډه کـې د کرونا وبـا ضـد واکسـین پـه پـار لـه چیـن څخـه مننـه وکـړه.

د سـنېګل اسـتازي وویـل، چـې دغـه هېـواد د فبـروری پـه ۲۳مـه د واکسـین بهیـر پـه لومـړي ګام کـې خپلـو خلکـو تـه د چیـن واکسـین تزریـق کـړ.

د یوګانـډا اسـتازي د نـړۍ لـه ټولـو علمـي کارپوهانـو څخـه مننـه وکـړه او ویـې ویـل، چـې دوی شـپه او ورځ زیـار ګاللـی او د کوویـډ-۱۹ ضـد واکسـین یـې جـوړ کـړی دی. نومـوړي لـه چیـن څخـه هـم مننـه وکـړه، چـې د کوویـډ -۱۹ ویـروس د ډي ایـن اې شـکل یـې پـر وخـت لـه نړیوالـې ټولنـې سره شریـک کـړ او واکسـین هـم پـه چټکـۍ جـوړ شـو.

کلـه چـې کرونـا وبـا پـه نـړۍ کـې پـه خورېـدو شـوه، د امریـکا حکومـت د مـلي دفـاع د واک د قانـون لـه مخـې د واکسـین کمپنـۍ مجبـورې کـړې، چـې لومـړی پـه خپـل هیـواد کـې دننـه قراردادونـه وکـړي.

د کرونـا وبـا ضـد هغـه واکسـین چـې پـه امریـکا کـې تولیدېـږي، نسـبتاً سـل پـه سـلو کـې د امریکایانـو لپـاره دی. د ځینـو ارګانونـو او خـبري رسـنیو د شـمېرو لـه مخـې، تـر اوسـه پـورې امریـکا شـاوخوا دوه میلیـارده او شـپږ سـوه میلیونـه ډوزه واکسـین اخیسـتی، چـې دغـه شـمېر د نـړۍ یـوه پـه څلورمـه برخـه نیسـي او د دغـه هیـواد لـه تقاضـا څخـه زیـات دی.

امریکا څـو سـوه میلیونـه ډوزه واکسـین پـه ګـدام کـې سـاتلې او تـر اوسـه یـې نـه دي کارولـی، چـې لـه املـه یـې پـه شـتمنو هېوادونـو کـې د دغـه واکسـین د ډېـرې زېرمـې او پـه بـې وزلو هېوادونـو کـې د واکسـین د نشـتوالي حالـت رامنځتـه شـوی دی.

د امریـکا تـر ټولـو سـخته کړنـه دا ده، چـې نـورو هېوادونـو تـه د دغـه واکسـین د تولیـد د اومـو مـوادو د صادراتـو مخنیـوی کـوي او د کرونـا وبـا ضـد پـه نړیوالـو همکاریـو کـې یـې زیـات خنډونـه جـوړ کـړي دي.

د هنـد د واکسـین تـر ټولـو لویـې تولیدوونکـې کمپنـۍ اجراییـوي مـشر ادار پونـاوالا پـر ټولنیـزو رسـنیو د یـو پوسـټ لـه لارې د امریکا لـه ولسـمشر جوبایډن څخـه وغوښـتل، چـې د اومـو مـوادو پـر صادراتـو بندیـز لغـوه کـړي، څـو د واکسـین تولیـدي انـدازه لـوړه شي.

د امریـکا حکومـت د پرلهپسـې زیاتـو نړیوالـو فشـارونو پـه تـرځ کـې یـوه اعلامیـه خپـره کـړه، چـې لـه مخـې یـې دغـه هیـواد بـه د واکسـین د تولیـدي اومـو مـوادو پـه ګـډون، ځینـې طبـي توکـي هنـد تـه ولیـږي. د هنـد انټرنېټ کاروونکـي د امریکا د ناوختـه غبرګـون پـه اړه ډېـر ناخـوښ دي، ځکـه د دغـه هیـواد صـادراتي بندیـز هنـد زیانمـن کـړی او د امریـکا حکومـت پـه ځنډ اړونـد کارونـه تـر سره کـړي، چـې د همـدردۍ څـرک پکـې نـه لیـدل کیـږي.

امریکا د بشري حقونـو پـه پلمـه د نـورو هېوادونـو پـه کورنیـو چـارو کې همیشـه لاسـوهنه کـوي، خـو د کرونـا وبـا د سخت خپرېـدو پـه حالـت کـې یـوازې خپلـو ګټـو تـه لومړیتـوب ورکـوي. نـړۍ اوس لـه دغـه هېـواد څخـه غوښـتنه لـري، چـې خپـل مسـوولیت پـر غـاړه واخـلي، خـو دغـه هیـواد لـه خپـل مسـوولیت څخـه پښـې سـپکې کـړې دي.

## یونیسف: افغانستان لاهم د ماشومانو لپاره تر ټولو بد هېواد دی

له ماشومانو څخه د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه صندوق یا یونیسف وایي، چې افغانستان د ماشومانو لپاره تر ټولو بد هېواد دی او لا هم په دغه هېواد کې میلیونونه ماشومان له خپلو اساسي حقونو څخه بې برخې دي.

د یونیسف استازې سوزان فورمن په کابل کې د ماشومانو د نړیوالې ورځې د نمانځلو په مراسمو کې وویل، چې په تېرو شاوخوا دوو لسیزو کې زده کړو ته د ماشومانو د لاسرسي کچه لس میلیونو ته پورته شوې او له ۲۰۰۴ز کال راهیسې د هغو ماشومانو شمېر چې ښه وده یې کړې، ۲۴سلنې ته رسېدلی دی.

خو فورمن وویل: «افغانستان لا هم د ماشومانو لپاره تر ټولو بد هېواد دی. جګړې او تاوتریخوالي ته په پاملرنې موږ د نویو زیږېدونکو ماشومانو او د مړینې لوړې کچې په تړاو اندېښمن یو، په هر زرو ماشومانو کې ٦۰یې له زېږون وړاندې مري، له څلور میلیونو څخه زیات ماشومان له ښوونځیو بې برخې دي».



د یادې ادارې استازې د هر افغان ماشوم د ژوند په لومړیو زرو ورځو باندې پانګونه د ماشومانو د راتلونکي د ښهوالي لپاره تر ټولو غوره لاره وبلله او زیاته یې کړه، هغه ماشومان چې د خپل ژوند په لومړیو زرو ورځو کې مالي او معنوي ملاتړ ولري، د نورو ماشومانو په پرتله ۲۵سلنه ښه وده کوي.

فورمن ډاډ ورکړ، چې اداره یې د افغانستان له حکومت سره ګډ کار ته ژمنه ده او د ماشومانو د خوندیتوب او پرمختګ لپاره به د نورو مرستندویو بنسټونو ترڅنګ د افغانستان له ماشومانو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

په ورته مهال ولسمشر غني هم د ماشومانو د نړیوالې ورځې په مناسبت په یوه ویډیویي پیغام کې ویلي، چې د جګړو او ناامنیو له امله میلیونونه افغان ماشومانو له خپلو اساسي حقونو څخه بې برخې دي، خو نوموړي ټینګار کړی چې له دغو ستونزو سربېره، د بل هر وخت په پرتله اوس په هېواد کې زیات شمېر ماشومان ښوونځیو ته ځي او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري.

په ورته مهال د کار او ټولنیزو چارو وزارت د معلوماتو په اساس، اوسمهال په افغانستان کې شپږ میلیونه ماشومان په ۲۳ کټګوریو کې له بېلابېلو ګواښونو سره مخ دي. د دغه وزارت مرستیال غلام حیدر جیلاني په دغو مراسمو کې وویل چې په هر لسو ماشومانو کې له اوو سره تاوتریخوالی کېږي، ۴۸ سلنه ماشومان په وړکتوب کې ودېږي او ۸۰ سلنه په ماشومتوب کې واده کولو ته اړ ایستل کېږي.

جیلاني دغه راز وویل چې اوسمهال یو میلیون افغان ماشومان له نشهیي توکو اغېزمن دي، ۷۷ سلنه وهل او ډبول کېږي، ٦٦ سلنه فزیکي وده نه لري او ۳٦ سلنه په خوارځواکۍ اخته دي.

هغه زیات کړه: «۱۹٦زره معلولیت لرونکي ماشومان لرو، په واټونو کې د هرو دریو کارګرو ماشومانو له شمېرې یو یې سوال کوي». د نوموړي په خبره، له زیانمنو ماشومانو څخه د ملاتړ لپاره افغان حکومت په پام کې لري چې په ۳۴ ولایتونو کې د ملاتړ مرکزونه فعاله کړي چې له دې شمېرې تراوسه په کابل، بامیان، بلخ او ننګرهار ولایتونو کې دغه مرکزونه جوړ شوي دي.

# افغان ولسمشرانو تېره لسیزه کې ۷ زره دولتي مډالونه او نښانونه وېشلي

بي‌بي‌سي- پښتو

په افغانستان کې د مډالونو او نښانونو په قانون کې شل ډوله دولتي مډالونه او نښانونه شته، چې ځینې یې مادي ارزښت هم لري؛ خو ډېر یې یوازې لوړ معنوي ارزښت بلل کېږي.

شمېرې ښیي چې په وروستۍ یوه لسیزه کې افغان ولسمشرانو په بېلابیلو برخو کې شاوخوا اووه زره (۷۰۰۰) مډالونه او نښانونه وېشلي.

رسمي دولتي مډالونه د اشخاصو د قدردانۍ او درناوي لپاره منظورېږي.

د نړۍ اکثره هیوادونه خپل خپل مډالونه او نښانونه لري، چې بېلابېلو کسانو او بنسټونو ته د دوی د خدمت او کار په بدل کې ورکول کیږي.

د افغانستان د مډالونو او نښانونو قانون کې د شلو ډولو دولتي مډالونو او نښانونو یادونه شوې.

د امیر شیرعلي نوایي، فیض محمد کاتب هزاره، عبدالمجید خان زابلي او ځینو نور مډالونو سیکې او قانوني طرحې هم جوړې شوې چې که یې پارلمان تصویب کړي، ورسره به د مډالونو او نښانونو شمېر لوړ شي.

د دې هېواد تر ټولو ارزښتمن مډال د غازي محمد اکبر خان مډال دی چې له یوه ویاړمن سند او ځانگړې علامې سره کورنیو او بهرنیو ملکي یا نظامي کسانو یا گټورو بنسټونو ته د دوی د ښو چارو په ویاړ ورکول کیږي.

افغان لیکواله صفیه صدیقي یو له هغو کسانو ده چې د وخت ولسمشر حامد کرزي لخوا د میوند اتلې ملالۍ مډال ورکړل شوی دی.

نوموړې بي‌بي‌سي ته وویل، په مډال ویاړي او په کور کې یې ایښی دی.

هغه وایي، دې مډال ته هغه وخت خوشالېږي چې کله څوک کور ته ورځي د هغې ستاینلیکونه او مډال وگوري نو د ویاړ احساس ورکوي، خو د هغې په وینا نوره کومه گټه، ترفیع یا مالي امتیاز یې له دې درکه نه دی تر لاسه کړی.

مډالونه او نښانونه مادي گټه لري؟

د غازي محمد ایوب خان، غازي میر مسجدي خان، غازي میربچه خان، غازي ملا مشک عالم، د میړانې په خاطر مډال او نور یو پر بل پسې باارزښته نور دولتي مډالونه دي.

په همدې ډول د غازي امان الله خان، علامه سید جمال الدین افغان لوړ دولتي نښانونه دي چې پر نښان سربېره پنځه میلیونه افغانۍ نغدي مکافات هم له ځان سره لري.

د لمر عالي نښان، د احمد شاه مسعود نښان، د ستوري نښان، د شجاعت نښان او ځینې نور دولتي نښانونه هم شته چې له دریو زرو افغانیو نیولې بیا لکه د سید جمال الدین نښان تر پنځو میلیونو افغانیو مادي مکافات هم لري.

افغان تاریخپوه او څېړونکی استاد حبیب الله رفع چې خپله یې د غازي ملا مشک عالم دولتي او ۲۵ نور علمي مډالونه اخیستي وایي، د مډالونو ارزښت او ځرنگوالی وخت په وخت بدل شوی:

«اعلیحضرت امان الله خان گڼ مډالونه او نښانونه لرل، په پخوا وختو کې به د لمر له نښان سره ۵۰۰ جرېبه ځمکه ورکول کیده، د دویم درجې مډال سره ۲۵۰ جرېبه او د دریمې درجې مډال سره ۲۵ جرېبه ځمکه ورکول کیده.»

د افغانستان د قوانینو له مخې، د ادارو او وزارتونو لخوا د یوه چا د ستایلو له تصمیم او وړاندیز وروسته د مډال ورکړې وروستۍ پرېکړه ولسمشر کوي.

چا ډېر مډالونه او نښانونه ورکړي؟

د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو اداري د معلوماتو پر بنسټ، له ۱۳۹۰ تر ۱۴۰۰ کال څه باندې ۷۰۰۰ مډالونه او نښانونه وېشل شوي دي.

په دې لړ کې د ۱۳۹۳ کال تر نیمایي چې لا حامد کرزی ولسمشر و، د نږدې څلورو کالو په موده کې له زرو کم مډالونه وېشل شوي.

د یوه کال په موده کې تر ټولو ډېر مډالونه او نښانونه ولسمشر محمد اشرف غني د خپلې واکمنۍ په لومړي کال ۱۳۹۴ کې ور کړي، چې شمېر یې له ۱۶۰۰ اوړي.

له دې ډلې یې ۱۴۵۷ په نظامي او ۱۳۶ ملکي برخه کې وو.

دا مډالونه چا ته ورکړل شوي؟

بي‌بي‌سي ته ورکړل شوې شمېرې ښیي چې ولسمشر غني د شپږو کلونو په موده کې د حامد کرزي تر څلورو کالو څو برابره زیات او له ٦ زرو ډېر مډالونه ویشلي. په دې دوره کې ډېر مډالونه نظامیانو ته ورکړل شوي.

ولسمشرۍ ماڼۍ مو د مډالونو د وېشلو د څرنگوالي او دا چې ولې یې په شمېر کې ډېروالی راغلی وپوښته؛ خو کوم ویاند یې ځواب رانه کړ.

خو تاریخ پوه حبیب الله رفیع بیا د دې چارې دلیل سیاسي مصلحتونه بولي:

«حکومت باید دا نښانونه او مډالونه هغه چاته ورکړي چې د وطن لپاره یې خدمت کړی وي، دا د ده لپاره هم ویاړ دی او د کورنۍ لپاره یې هم ویاړ دی؛ خو له بده مرغه دلته امتیازات او د ویاړ دا نښانونه تر ډېره حده مستحقو کسانو ته نه ورکول کیږي.»

دا مډالونه په بېلابېلو برخو لکه ملکي، نظامي، سیاسي، ورزشي، فرهنگي، علمي او ډېرو نورو برخو کې وېشل شوي او وخت نا وخت بیا ځینې بهرني ولسمشران، مېلمانه او د ناټو او امریکا پوځیان هم پرې نازول شوي چې د خلکو غبرگونونه هم له ځان سره لري.

# د سولې نامعلوم برخلیک، د جگړو او کډوالۍ اوج؛

## ملگري ملتونه: نړیواله ټولنه دې د جگړو له بې‌ځایه شویو افغانانو سره بېړنۍ مرستې وکړي



په دې وروستیو کې په هېواد کې د سولې له پخ بهیر سره جوخت، په ډېریو ولایتونو کې جگړو او نښتو زور اخیستی، چې پر ښکېلو غاړو سربېره پکې ملکي وگړو ته هم د سر او مال زیانونه اوړي او گڼ شمېر نور یې د خپلو سیمو او مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي.

کندهار، هلمند، غزني، فاریاب، هرات، لغمان، جوزجان او بغلان هغه ولایتونو دي، چې په دې وروستیو کې جگړې پکې شدیدې شوي او ان د ولایتونو تر مرکزونو رارسېدلې دي. بلخوا د جگړو له ډېرېدو سره هممهاله لسگونه زره افغانان د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي او تر سختو شرایطو لاندې په نورو سیمو کې مېشت شوي دي. بلخوا د ملگرو ملتونو د کډوالو چارو اداري یا(UNHCR) په افغانستان کې د روانې اوږدې جگړې له امله د بې ځایه شویو کورنیو پر وضعیت اندېښنه ثرگنده کړې ده. یادې ادارې پر خپله وېب‌پاڼه لیکلي، چې د بې ځایه شویو افغانانو او د هغوی له کوربنو سره د ملاتړ لپاره نویو ژمنو ته اړتیا ده.

دغې ادارې له نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې چې له میلیونونو افغانانو سره چې خپلې راتلونکې ته اندېښنه لري او هم له هغو هېوادونو سره پیوستون اعلان کړي، چې د څه باندې څلورو لسیزو جگړو په ترڅ کې یې بې ځایه شویو افغانانو ته خوندي ځای برابر کړی او اړینې مرستې دې ورسره وکړي. د دغې ادارې د اسیا برخې مشر اندریکا راتواتي ویلي، دغه اداره او نړیواله ټولنه باید تر بل هر وخت ډېر اوس له بې‌ځایه شویو افغانانو سره چې د جگړې قربانیان دي، ودرېږي او هغوی ته ډاډ ورکړي چې د دوی نه هېرېږي.

په ورته مهال له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په مهالوېش کې له ځنډ وروسته د سولې بین الافغاني خبرې په ټپه دریدلې، جگړې، نښتې، موټربم چاودنې، هوایي بریدونه او هدفي وژنې زیات شوي او آن د جگړو او نا امنیو لمن د هېواد نسبتاً امن سیمو او ولایتونو ته هم غځېدلې ده. هرات په تېرو دوو لسیزو کې له هغو ولایتونو څخه و چې امنیت پکې تر ډېره ښه و، خو په دې وروستیو کې په دغه ولایت کې هم جگړو او نښتو زور اخیستی چې له کبله یې سلگونه کورنۍ بې ځایه شوي دي.

د هرات د کډوالو چارو ریاست وایي چې په تېرو دوو میاشتو کې د دغه ولایت په شینډنډ، اوبې، غوریان او پښتون زرغون ولسوالیو کې د جگړو له کبله ۱۷۰۰ کورنۍ بې ځایه شوې دي.

د هرات والي سید وحید قتالي وایي چې دغه کورنۍ تر ډېره د هرات ولایت مرکز ته کډه شوي او جدي مرستو ته اړتیا لري.

نوموړی پر کورنیو او بهرنیو مرستندویو بنسټونو غږ کوي چې په دغه ولایت کې دې بې ځایه شویو کورنیو ته خپلې بېړنۍ مرستې ورسوي.

د جگړو او نا امنیو تر څنگ د سولې مذاکراتي ټیمونه یو ځال بیا په د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سولې مذاکراتو لپاره پر چمتووالي بوخت دي. دوی هیله ثرگندوي چې د سولې روانې خبرې به دا ځل یوې پایلې ته ورسېږي.

د سولې وزارت چارواکي هم وایي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پلاوي یو شمېر غړي تېره ورځ دوحې ته تللي او پاتې نور به هم ژر لاړ شي چې د دواړو ټیمونو له رسېدو سره جوخت به د سولې خبرې هم پیل شي.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر دری میلیونه او ۵٦۷زره او ۵۱۵ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۱میلیونه او ۵۸۹ زره او ٦۵۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دري میلیونه او ۵٦۷زره او ۵۱۵ کسان مړه شوي او نږدې ۱۵۴میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۱۱۴زره او ۴۰۵ ته رسېدلي او ٦۰۹ زره او ۷۷۷ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۸میلیونه او ۲۱۲ زره او ۷۲۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱٦میلیونه او ۵۴۷زره او ٦۷۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦٦۷ زره او ۳۲۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۲۴۹ زره او ۴۰۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

هند بیا په نړۍ کې له امریکا وروسته او په اسیا کې تر ټولو مخکښ هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس تر ټولو زیاتې مثبتې پېښې پکې ثبت شوي دي. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ۳۹زره او ۷۲ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۷۳۵ کسان ترې مړه شوي دي.


دغو شمېرو ته په کتو داسې ښکاري چې په دغه هېواد کې د کرونا اوسنۍ څپه مخ په ټیټېدو ده. په دې وروستیو کې په هند کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې او د مړو شمېر په بې مخینې ډول لوړ شو، چې ان دغه هېواد یې له یاد ویروس سره د مبارزې په برخه کې بهرنیو مرستو ته اړ کړ.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پیښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. ایس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر





ما د باور په رامنځته کېدو کې کشمیر ته لومړیتوب ورکړ. مفتي صېب د گډ پولي واحد* وړاندیز کړی و.
عام پولي واحد به بانکوالي مهمه کړي. خلک په دې نه پوهېږي، چې د جمو او کشمیر بانک یوازې د کشمیر لپاره نه، بلکې د هند د نورو برخو لپاره هم یوه شتمني ده.
د UP «اُتراپردېش» له ټاکنو وروسته یوه موضوع چې زه پرې وپوهیدم دا وه، چې د مسلمانانو د وروسته پاتې والي یو لامل دا دی، چې د هغوی په سیمو کې هېڅ بانک نشته. بانکوالي یوه ستره ستونزه ده.
سېنها: نو تاسې وایئ، چې د پاکستان دولتي بانک راشي او په هند کې څانگې پرانېزي؟
دولت: او د جمو او کشمیر بانک د پاکستان تر واک لاندې کشمیر کې. زه له جنرال صېب سره موافق یم، چې پیلامه باید کشمیر وي. راځئ پر کشمیر خبرې وکړو. د هند ـ پاکستان ترمنځ په دې تړاو خبرو اترو ته اړتیا ده. دغه راز د هند ـ کشمیر او پاکستان ـ کشمیر خبرو ته. څنگه چې د واجپای د حکومت پر مهال په دې تړوا غیررسمي کارونه وشول.
وروسته ورپسې له ډیپلوماتیکو چینلونو رسمي خبرې اترې شونې دي. د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه مذاکرات، د جنرال صېب د لېوالتیا وړ خبرو اترو گډوله، ټول امکان لري. دا مذاکرات ولې له سره احیا نشي؟ خو اوس سمدستي نه، ځکه اوس زموږ ترمنځ هېڅ اړیکې نشته او هر څه چې کېږي، د غیر دولتي فعالانو ترمنځ په پټه روان دي.
جنرال صېب یادونه وکړه، چې څنگه دا کار شونی دی. زما په باور ښه پیلامه یې دا کېدای شي، چې دوال ته اجازه ورکړل شي، چې لاهور ته لاړ شي.چې زغم او نزاکت راوگرځي، نو زموږ د جمهوریت د راتلونکې ورځې خاص مېلمه باید د پاکستان لومړی وزیر وي. د پاکستان لومړی وزیر، خو باید د نوي ډیلي یو دوامداره مېلمه وي، چې حالات ښه شي، هغه باید له مودي صېب سره د حیدر آباد ماڼۍ کې غرمنۍ ته کېني.
د سارک ناستې ځنډېدلې او هغه هم باید له سره پیل شي. اړتیا ده، چې د گجرال دکتورین په پام کې ونیول شي.
که اړیکې ښې پر مخ ولاړې شي، په نړیواله کچه هم په خپلمنځي همکاریو غور کولی شو. ډېری وخت دا له یاده ایستل کېږي، چې زموږ مسلمانانو نفوس د نړۍ په کچه دویم ستر نفوس دی. نو هند ولې باید د اسلامي همکاریو کنفرانس غړی نه وي؟
سېنها: آیا هند ته تر اوسه هېڅ بلنه نه ده ورکړل شوې؟
دوراني: یو ځل. پاکستان یې مخالفت وکړ*. موږ ویل نو هند ولې؟ دا د مسلمانانو کنفرانس دی او دوی به ورته چلتار تړلی سک رالېږي.
دولت: تاسې چې لونگۍ وهلي مسلمانان ورلېږئ، نو ولې یو چلتار تړلی بېچاره سک په کې نه وي؟
دوراني: خنډوونکي عوامل یې مطرح شول، خو اصلي خبره دا وه، چې موږ نه غوښتل هند مو په دې ټولنه کې له بن بست سره مخامخ کړي.
دولت: وروستی وړاندیز د ازادو رسنیو و. که څه هم په دې وروستیو کې یې بندیز پورته شوی، خو موږ پاکستاني تلویزیوني شبکې نشو لیدلی، دوی هم هندي ټلویزیونه نشي کتلی. پاکستان کې د هند د فلمي صنعت او موسیقۍ مینه وال ډېر دي. پاکستان هم ښه هنري ستوري لري، چې ځینې یې ممبیي ته هم راتلل. اوس دا لړۍ درېدلې ده.
په ټوله کې، خلک به په دې برخه کې زموږ د همکاریو تود هرکلی وکړي. زموږ د لویې ټولنې د ډېری جگړه پالو پاکستاني سیریالونه خوښېږي.
سېنها: بله ستونزه دا ده، هر څوک چې دا څیزونه غواړي، باید عامه افکار ورته چمتو کړي.
دولت: همدا د جنرال صېب د وړاندیز پر اهمیت دلالت کوي، ځکه نوموړی وایي دا شیان باید له عام نظره پټ او غلي وساتل شي.
سېنها: د جنرال صېب نوبت دی.
دوراني: د هغو کارونو په اړه چې نه دي شوي او باید شوي وای تل خبرې کېږي، نو ځکه یې ماته هم اوس تکرار یادول ساده دي. خو دا ښه لیدلوری به پر تصمیم نیوونکو او پرېکړه کوونکو هېڅ اغیز ونه کړي. حتماً یې پر خلاف ځینې خنډونه شته، چې له بیروکراسۍ پیلېږي. دوی مسلکي خبرلوڅ دي او په احتیاط لوبه کوي. زموږ چاپیریال کې له سرتمبه خلکو سره معامله گرانه ده. دوی آن د خپلو هغو ملگرو کړنو ته هم د شک په سترگه گوري، چې د دښمن پر وړاندې یې دریځ نرم دی او د روغې جوړې پلویان دي. خو بیا هم سیاسي مشرتابه باید پرېکړه وکړي. منموهن سېنگ که څه هم پاک زړی و، خو د خپلو سیاسي مخالفینو، رسنیو او آن خپلو ملگرو له لوري وځپل شو. **دوام لري...**

# انسان د مانا په لټون

اکسوس کتابپلورنځی

د کتاب ژباړن وایي: د دې کتاب ستاینه مې لومړی ځل د سټیفن کووې «د اغېزناکو خلکو ۷ عادتونه» کتاب د ژباړې پر وخت لوستې وه. سټیفن، ډاکټر ویکتور فرېنکل فعال (Proactive) انسان معرفي کړی و او د دې کتاب لوستل یې د هر چا لپاره اړین بللي وو. ما چې د هغه کتاب ژباړه خلاصه کړه، دا کتاب مې پیدا کړ؛ خو له بده مرغه متن یې زما تر تمې ډېر سخت و. په هغه وخت کې مې د دې ورو ژباړه پیل کړه، بیا چې زه پر ځینو نورو کارونو بوخت شوم، د دې کتاب کار رانه ځنډنی شو. له ښه مرغه اوس مې بیا وخت ورکړ او کتاب مې بشپړ کړ.
د کتاب د نوم موضوع جالبه ده. د کتاب انگلیسي نوم، فارسي ته ټکي په ټکي (انسان در جستجوی معنا) ژباړل شوی دی؛ خو په انگلیسي ژبه کې Meaning د موخې په مانا ډېر کارېدلی دی. ما چې ژباړه کوله، د شکتي گاویان خبره رایادېده چې په خپل یوه کتاب کې یې خدای ته د لس دوولسو ژبو نومونه کارولي او لوستونکي ته وایي، ته چې ترې هره مانا اخلې، همغه سمه ده. ما هم په دې کتاب کې Meaning کله مانا لیکلی، کله مې ارزښت لیکلی او کله مې موخه لیکلې... . هدف مې یوازې دا و چې کتاب عام او د لوست جوگه شي.
ښایي دا پوښتنه هم وشي چې نوم یې ولې «انسان د مانا په لټون» شو؟ سره له دې چې دلته Meaning په دې مفهوم نه دی راغلی. دلته یوه وړه بېلگه راوړم. ما د ترکۍ لیکوالې ایلیف شافاک کتاب (The forty rules of love) وژباړه او (د مینې څلوېښت اصول) په نوم چاپ شو. همدا کتاب په فارسي کې یوه ژباړن د «ملت عشق» په نوم ژباړلی دی. دواړه همدا یو کتاب دی؛ خو وروسته ډېرو خلکو لیکلي وو چې دا د ملت عشق کتاب باید پښتو ته وژباړل شي، ځکه دوی نه وو خبر چې اصلي نوم یې څه و. یوه کس ته مې چې وویل دا کتاب په پښتو کې (د مینې څلوېښت اصول) په نوم چاپ دی، ببرته یې پر ما نیوکه کوله چې تا د کتاب اصلي نوم ولې بدل کړی دی؟ «دی خبر نه و چې اصلي نوم یې څه دی.» ډېرو ژباړونکو د «ملت عشق» د ژباړلو تکل هم کړی و؛ خو ځینو لوستونکو پوه کړي وو چې دا کتاب په اصلي نوم پښتو ته ژباړل شوی دی.
دلته هم له ما سره همدا وېره وه چې هسې نه زه کتاب «انسان د هدف په لټون» یا «انسان د موخې په لټون» یا حتی «انسان د ارزښت په لټون» چاپ کړم او خلک بیا داسې فکر وکړي چې دا گنې هغه (انسان در جستجوی معنا) کتاب نه دی. بیا به د همدې یوې کلمې له امله خلک د پښتو پر ځای فارسي کتاب لولي، ځینې به یې د بیا ژباړلو هوډ کوي او ځینې به ما ملامتوي چې د کتاب سم دم نوم مې بدل کړی دی.




که له ما پوښتنه وشي چې په ټولو کتابونو کې دې د کوم یوه ژباړه سخته وه، زه به ورته «همدا» کتاب ښیم او که څوک راته ووایي چې په خپلو کتابونو کې راته دې تر ټولو ډېر مهم کتابونه وښیه، یو به په کې «همدا کتاب» ښیم.
انسان د مانا په لټون د ویکتور فرینکل اثر دی، چې د نوموړي د ژوند دردوونکې خاطرې بیانوي او هم په بې زغمه ستونزو کې پر ښکېلېدو سربېره د هیلو، انسانیت او ازادۍ په لټه کې پاتې کېږي.
دا کتاب له دویمې جگړې وروسته په ۱۹۴٦ کال لیکل شوی. د نړۍ لسگونو ژبو ته ژباړل شوی او پښتو ژبې ته هم تازه ژباړل شوی او د کتاب بازار ته وړاندې شوی. د یاد کتاب پښتو بڼه ۱۵۲ مخونه لري او په داستاني توگه ټوله کیسه بیانوي.
مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلامي خلافت د مشرانو لنډه پېژندنه | رباني ساجد | ۸۰؋ |
| ۲ | د مالي خطرونو مدیریت | محمدبشیر دودیال | ۱۲۰؋ |
| ۳ | روش های تحقیق در روان شناسی و علم تربیتی | خلیل الرحمن سروری | ۳۳۰؋ |
| ٤ | اقتصاد خرد | فردین احمد صدیقی | ۱۵۰؋ |
| ۵ | عمومي ارواپوهنه | گل رحمان حکیم | ۱۸۰؋ |
| ٦ | جغرافیای سیاسی افغانستان | محمدعظیم عظیمی | ٤۰۰؋ |
| ۷ | د ادب د تیورۍ اساسونه | دوست شینواری | ۲۰۰؋ |
| ۸ | د ژباړې تیوري | گل رحمان رحماني | ۱۵۰؋ |
| ۹ | ادب تیوري | لعل پاچا ازمون | ۳۵۰؋ |
| ۱۰ | اصول و مبادی جراحی | چراغ علی چراغ | ٤۰۰؋ |
| ۱۱ | پتالوژی جهازات | امین همکار | ۲۸۰؋ |
| ۱۲ | فزیولوژی طبی | محمدناصر فروتن | ۳۵۰؋ |
| ۱۳ | نړیوال اقتصاد | حمدالله نظامي | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | لیکوالي | محمد آقا شېرزاد | ۲۳۰؋ |
| ۱۵ | قران او علم النفس | محمد عثمان نجاتي | ۳۰۰؋ |
| ۱٦ | اساسات اناتومی | دیپارتمنت اناتومی پوهنتون کابل | ۳۸۰؋ |
| ۱۷ | د جغرافیوي نښو حقوق | سیدحسن میرحسیني/محمدقسیم وصال | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | د وجایبو حقوق | حفیظ الله دانش/بصیراحمد کوچی | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | اقلیم پوهنه | عزت الله سائل | ۱۸۰؋ |
| ۲۰ | د حقوقي پوښتنو بانک | خان اغا پاینده بهسودوال، مصلح الدین حامد | ۳۸۰؋ |
| ۲۱ | نړیوال سازمانونه | نبي بصرت | ۲۳۰؋ |
| ۲۲ | اساسات امور مالی عامه | عبدالقیوم عارف | ۱۷۰؋ |
| ۲۳ | فارمکولوژی سریری و تداوی دوایی | احمد فرید دانش | ۳۲۰؋ |
| ۲٤ | اساسات اقتصاد جزء ( اقتصاد خرد) | حمیدالله نور عباد | ۲۰۰؋ |
| ۲۵ | جزا شناسی | حفیظ الله دانش | ۲۳۰؋ |
| ۲٦ | سازماني پرمختیا | منصور فقیرزی | ۲۲۰؋ |
| ۲۷ | کریمنالستیک | محمدشفیع صالحی | ۱٦۰؋ |
| ۲۸ | کلیات حقوق اداری | عبدالوحید نیاز | ۲۲۰؋ |
| ۲۹ | د رحمان بابا کلیات | دوست محمدخان کامل مومند، قلندر مومند | ۲۲۰؋ |
| ۳۰ | تلاش افغان‌ها برای صلح | زرین انځور و خلیل الله افضلی | ۳۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،٤ |
| € | ۹۵ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۹،۸ |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# له خپلو ټولو امکاناتو استفاده وکړئ

ژباړه: امان الله حنیفي

فکر کوم هر لیکوال به د خپل کتاب د ډېر پلور په اړه فکر کوي. دا خبره زما په اړه هم صدق کوي. تر ۱۹۹۷ یمو کلونو پورې مې ۱۲ کتابونه لیکلي وو او داسې فکر مې کاوه چې له یوڅه خلکو سره مې مرسته کړې ده، خو بیا هم باوري نه یم چې خپلې ټاکلې غوښتنې ته رسېدلی یم.

ډېری لیکوالان کتابونه تر لیکلو وروسته خپرندویه بنسټونو ته لېږي او نور همداسې هلیه من پاتې کېږي. د کار نیمګړتیا په همدې کې ده چې یوازې هیله من پاتې کېدل د حل لار نه ده. پوهېږم که داسې خبر وی چې کتاب به مې د ډېرو پلورل شوو کتابونو په ډله کې راځي، حتماً به مې د هغه لپاره پلان جوړاوه.

د یو رهبر په حیث او هغو امکاناتو ته په کتو چې زه یې په واک کې لرم، داسې فکر کوم، هرڅومره چې زیات امکانات په واک کې ولرم، هماغومره مې موخو ته د رسېدو چانس هم زیاتېږي. له دې وجې مې خپلې غوښتنې په لاندې ډول ارزولې دي: د یو کتاب په اړه د یوې ښې ایډیا لرل؛ کېدای شي دا کار مو په نظر سم در نه شي، خو هرڅه له همدې ځایه پیلېږي. د دې لپاره چې یو بریالی لیکوال شی، باید یو تر ټولو ښه اثر وپنځوئ. نه شی کولای چې خپل کار مو په دې پوښتنې سره پیل کړی چې «څنګه کولای شم چې په کاپي اندازه خپل کتابونه وپلورم، څو مې کتاب تر ټولو د ډېرو پلورل شوو کتابونو په ډله کې راشي؟» د دې پر ځای له ځانه وپوښتئ: «څه ولیکم، څو دومره ارزښت ولري چې کتاب مې د ډېرو پلورلو شوو کتابونو په ډله کې راشي؟» دې ته پوښتنې زما ځواب «د رهبرۍ ۲۱ مهمې ځانګړنې» کتاب دی. زما په باور، دا کتاب د هغو کسانو لپاره ګټور دی چې غواړي د رهبرۍ په اړه ډېر معلومات ولري.

یوه تر ټولو ښه کاري ډله؛ داسې چې په هغه کې تر ټولو فوق العاده کسان راټول شوي وو او هماغه وو چې تر ټولو ښه کاري ډله یې هم جوړه کړې وه. دا دې توماس نلسون په نوم یو ښه لیکوال او ناشر و، چې غوښتل یې پر دې سربېره چې زما شرکت له ښې تجربې برخمن و، بیا یې هم غوښتل چې زما بریا ووینې. د امریکا په سطحه د باسکتبال لیګ سیالیو وتلی کُچ پت ریلي د کاري ټیم په اړه وايي: «کاري ټیم دا ایجابوي چې د ټیم ټول غړي پر یو معلوم لوري حرکت وکړي.»

مهلت یا ضرب الاجل ورکول؛ د ښو او عالي کارونو د سر ته رسولو لپاره دوو کارونو ته اړتیا لری: یو پلان او بل هم د وخت کموالی. کله چې خپل هدف ته د رسېدو لپاره خپل وخت ټاکی، خپله ځان پر دې مکلف کوی چې باید په هماغه ټاکلې وخت کې یې سرته ورسوی.

نوښت؛ کله چې موږ د دوو کاري ټیمونو د غږیو نظریات سره شریک کړل، څو وشو کولای چې په کم وخت کې ډېر کتابونه وپلورو، هماغه وو چې د دې کار ښه پایله مو تر لاسه کړه. موږ تصمیم ونیو چې په پنځو ورځو کې به له ۱۵ ښارونو لیدنه کوو. له کتاب پلورونکو مو وغوښتل چې په اړوندو ښارونو کې زموږ د کتابونو له ننداړتون څخه لیدنه وکړي، څو زموږ کتابونه وپلوري. لنډه دا چې ټول سوداګریز تبلیغات مو وکړل.

مناسب فرصت؛ ډېر زیات کار یې وغوښت، خو موږ ته یې دا فرصت په لاس راکړ، چې له خلکو سره په اړیکه کې شو. هرڅنګه چې وو، دا هغه خلک وو چې د کتاب د پلورلو لپاره یې تصمیم نیوو. په هر ښار کې مو ښوونیز پروګرامونه جوړ کړل، څو هلته د کتاب له مخې د «د رهبرۍ ۲۱ ځانګړنې» کتاب په وړیا ډول تدریس کړم. هرڅه مې داسې ترتیب کړل، څو د هرې سیمې اړوند خلک په نوبت له کتابپلورنځي د خپلې خوښې وړ کتابونه واخلي. له نېکه مرغه خلکو مو د کتاب ډېره ستاینه وکړه، په دغه پروګرام کې ډېری ګډون کوونکي سوداګر پر دې پوه شول، چې د خپلو رهبرانو لپاره د «د رهبرۍ ۲۱ ځانګړنې» کتاب واخلي. دا کتاب د خلکو په خوله شو او بالاخره ډېر زیات وپلورل شو. بالاخره د همدې میاشتې په اخر کې همدا کتاب د دریو بېلابېلو فهرستونو په درلودو سره د ډېرو پلورل شوو کتابونو په ډله کې راغی. له دغو فهرستونو یو یې په ۲۳ میاشتو کې ډېر وپلورل شو. یوولس کاله وروسته دغه کتاب تر دوو میلیونو زیات وپلورل شو.

د خپلو موخو په اړه فکر وکړئ؛ ممکن د کتاب لیکلو قدرت ونه لری، ممکن وغواړی چې د المپیک سیالیو اتل شی او یا هم د یو لوی شرکت جوړونکی او یا هم وغواړی چې خپل اولادونه داسې وروزی، چې هغوی خپلو باالقوه وړتیاوو ته ورسېږي. دې ته له پام پرته چې کومې وړتیاوې لری، په دې اړه فکر وکړئ چې کومو امکاناتو ته اړتیا لری او همدا اوس بیا کوم امکانات په واک کې لری؟ څه دارایي لری؟ څوک کولای شي له تاسې سره مرسته وکړي؟ له دې هرڅه یو فهرست جوړ کړئ، یوازې پلان جوړونه کافي نه ده، ممکن خپلو موخو ته د رسېدو لپاره اړ شی چې له خپلو ټولو امکاناتو استفاده وکړی.

هغه څه چې اړین نه دي، لرې یې کړئ

یوه شېبه مو د خپلو موخو او د هغو د پاللو په اړه فکر وکړئ، هغه څه چې ډېر خلک یې په اړه فکر کوي، دا دي چې له کومې لارې ډېر عاید تر لاسه کړي؟ کومو ځایونو ته سفرونه وکړي؟ له کومو کسانو سره به ووینې؟ کوم څیزونه به لاس ته راوړي او کومو امکاناتو ته به ورسېږي؟ ایا په همدې فهرست کې کومې خاصې نقطې ته متوجه شوی؟ د دې فهرست هر یو جز ډېر ارزښت لري، په هغه کې داسې کوم جز نشته چې تاسې یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره باید پرېږدی؛ خو موخو ته د رسېدو لپاره هم باید ترې صرف نظر ونه کړئ.

لومړی موخې د دروني بیې پرې کولو غواړي، خو دا یوه خبره سر له اوسه ذهن ته وسپارئ «د دې لپاره چې خپلو موخو ته ورسېږی، باید ډېر څه له لاسه ورکړئ، دا لویه ننګونه نه ده چې باید بد څیزونه له لاسه ورکړئ، بلکې له هغو ښو څیزونو چې له تاسې سره چندانې مرسته نه شي کولای، هم تېر شئ. د بېلګې په ډول، ستاسې یو ملګری له ګلف لوبې سره مینه لري، خو۱۵ کاله کېږي چې ګلف لوبه یې نه ده کړې؛ ځکه هغه واړه بچیان لري او نه غواړي چې له هغوی لرې وخت تېر کړي. له خپل پلانه د غیرضروري څیزونو ایستل، هره ورځ کار ته اړتیا لري؛ خو همدا کار د دې ارزښت لري چې دې هغه لپاره هره قرباني ورکړئ او دې له منځه وړلو لپاره یې ډېر څه وګالی. ولې؟ ځکه ډېری کسان چې نه شي کولای خپلې موخې لاس ته راوړي، تر ټولو لویه ستونزه چې د دوی مخه یې ډپ کړې ده، هغه له هڅې او تلاش لاس اخیستل دي. که غواړی چې خپلې موخې مو لاس ته راوړی، باید له کم ارزښته څیزونو تېر شئ، څو مو ډېر ارزښت لرونکو څیزونو ته وخت پیدا کړی.

له ننګونو مو ملاتړ وکړئ

د موخو تر اعلان وروسته، د اقداماتو ارزونه، د ټولو انتخابونو په نظر کې نیول، له ټولو امکاناتو ګټه اخیستل او د غیر ضروري څیزونو حذف، لا هم بل کار لری چې باید سر ته یې ورسوی: باید له خپلو ننګونو مو استقبال وکړئ.

هرې موخې ته د رسېدو غځېدلې لارې له ډېرو ستونزو او لوړو ځوړو ډکې دي، له هرڅه مهمه دا ده چې ځان له هغه سره مخ کولو ته چمتو کړئ. د دې پر ځای چې د تېر وخت په اړه فکر وکړی او اندېښمن شی، د راتلونکي په اړه مو فکر وکړئ. کولای شی چې ذهني لرلید په نظر کې ولری، ځان هسې ووینئ چې له دې ننګونو پر ځینو یې برلاسي شوي یاستی. هېڅ داسې کس نشته چې موخو ته د رسېدو پر لار یې د ماتې نه وي خوړلې. ستاسې له هدفونو باید یو دا وي چې ماتې خوړل تجربه کړئ، له هغه درس واخلئ، نوره یې هېره کړئ او بالاخره بریا ته ورسېږی.

کلونه مخکې مې چې کله د کارولینای او دوک په پوهنتونونو کې د رهبرۍ په اړه سمینار ورکاوه، له روبرت ژیلبرت اروایوه سره مې ولیدل، د مېز پر سر مې له هغه وپوښتل: «ستاسې په باور، د بریالیو او ناکامو ورزشکارانو تر منځ توپیر په څه کې دی؟» ساده خو باوري ځواب یې راکړ: «مات شوي ورزشکاران د ماتې د عواقبو په اړه فکر کوي، خو بریالي هغه بیا د بریا د پاداش یا اجرې په اړه.»

د ماتې تجربه کول یو نه ځان ساتونکی امر دی، مانا دا چې په ژوند کې هم ترې ځان نه شې بچ کولای، نو پر همدې اساس مې تاسې ته سپارښتنه دا ده چې له ماتې خوړلو سره مینه ولرئ. کله مو چې ماتې وخوړه، بیا هغه ومنئ، دقیقه یې و ارزوئ او له هغه درس واخلئ. که مو همدا کار وکړ، نه یوازې دا چې ماتې خوړل به تکرار نه کړی، بلکې په احساسي لحاظ به هم پیاوړي شی.

دویمه ننګونه چې تاسې باید ورسره مخ او پر هغه برلاسي شی، هغه انعطاف پذیر اوسېدل دي. وسي کلارک وایي: «دوه ډوله پلان لرم: لومړی هغه پلان چې ممکن بریالی شي او دویم هغه پلان چې له کار او عمل وروسته بیا هم نه بریالی کېږي. د «سل په سلو کې بریالی پلان» په نوم څه نشته، باید داسې یو پلان جوړ کړئ، چې په زیات احتمال سره بریالی شي او وروسته بریا ته د رسېدو لپاره هڅه وکړئ.»

دا چې دې انعطاف پذیرۍ د اوسېدو لپاره هڅه کوی، دا په یاد لرئ چې ممکن ستاسې له موخو بېرته نوره هڅه بدلون وکړي.

البته داسې تضمین نشته چې تاسې به حتماً د دې نقطو په رعایت کولو سره خپلو موخو ته ورسېږی، خو که یو پلان او برنامه ولری، که انعطاف پذیره اوسی، که پر خپلو موخو تمرکز ولری، که خپل امکانات سره یو ځای کړی او که هره ورځ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره هڅه وکړی او د پرمختګ کولو لپاره یو قدم واخلی، په زیات احتمال سره به خپلو موخو ته ورسېږی.


موخې اسانه او ډېرې ژر پر حقیقت نه بدلېږي او نه هم مطلوبې پایلې لاس ته راوړي، نو ښه دا ده چې هڅه او کوښښ مو هماغسې جدي په پام کې ونیسئ. د موخو د لاس ته راوړلو لپاره هم باید ښه پیل وکړئ او هم ښه ښه پای.

## مذاکراتي پلاوی: هیله من یو چې د سولې خبرو دا پړاو به یوې پایلې ته ورسېږي

په هېواد کې د جګړو او نښتو له ډېرېدو سره هممهاله د سولې مذاکراتي پلاوي هیله من دي چې سولې روانې خبرې به دا ځل یوې پایلې ته ورسېږي.

بلخوا د سولې وزارت چارواکي وایي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پلاوي یو شمېر غړي تېره ورځ دوحې ته تللي او پاتې نور به هم ژر لاړ شي چې د دواړو ټیمونو له رسېدو سره جوخت به د سولې خبرې هم پیل شي.

بلخوا د افغان مرکچي پلاوي غړی غلام فاروق مجروح وایي، دوحې ته له رسېدو سره سم به د دواړو لوریو ترمنځ د سولې نوي پړاو خبرې پیل شي: « د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مرکچي پلاوي یو شمېر غړي، د سولې خبرو د نوي پړاو د پیل په موخه دوحې ته ځي. مذاکرات به پیل شي. پاتې غړي او د پلاوي رییس به د راتلونکې اونۍ په پیل کې دوحې ته سفر وکړي.»



په دوحه کې د سولې خبرې وروسته له دې پیکه شوې چې د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستانه د خپلو ټولو ځواکونو د وتلو لړۍ د سپټمبر تر ۱۱مې وغځوله. د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې د تړون پر بنسټ، بهرني ځواکونه باید د مې تر لومړۍ نېټې افغانستان پرېږدي. د دې خبر له اعلان وروسته، افغان مرکچي او طالب پلاویو یوازې په کوچني اختر کې سره وکتل او د خبرو پر دوام یې هوکړه وکړه، خو له کوچني اختر وروسته، دواړه لوري د خبرو مېز ته حاضر نه شول او پر یوه او بل یې د خبرو د ځنډولو تورونه هم ولګول.

خو اوس طالبان هم وایي، د سولې خبرو پرمخ بېولو ته چمتو دي. په قطر کې د دې ډلې د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم وایي: «دوی د سولې خبرو د دوام لپاره بشپړ چمتووالی لري.»

طالبان د سولې خبرو د دوام لپاره خپل چمتووالی داسې مهال اعلانوي، چې په دې وروستیو کې یې یو پلاوی هم پاکستان ته ولاړ او د سفر موخه یې هم د استانبول غونډې او د سولې خبرو د دوام په اړه له خپلو مشرانو سره مشورې وبللې. دواړه لوري داسې مهال د سولې خبرو ته د چمتووالي خبره کوي، چې په افغانستان کې جګړه هماغسې په شدت کې روانه ده او طالبانو موټر بم بریدونه هم پیل کړي دي.

Maseer
Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د جون دویمه |۷۲٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۹ | ٤۱ | ٤۰ | ٤۲ | ۳٦ |
| ۱٦ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰۴:۴۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیگر ۰۴:۵۱ | ماښام ۰۷:۰۰ | ماخوستن ۰۸:۳۶



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر درې میلیونه او ۵٦۷زره او ۵۱۵ کسانو ته ورسېد


۳

## متضرران آتش‌سوزی اسلام‌قلعه:
## حکومت زمینه برای دریافت ۲۵ میلیون خساره ما را فراهم کند



متضرران آتش‌سوزی گمرک اسلام‌قلعه از حکومت می‌خواهند که در کنار پرداخت هشت میلیون دالر امریکایی، زمینه برای دریافت ۲۵ میلیون دیگر خساره‌شان را فراهم کند.
این متضرران هشدار می‌دهند در صورتی که حکومت خساره‌شان را از شرکت تی‌سی‌آر سی نگیرد، علیه حکومت و این شرکت دعوای حقوقی باز خواهند کرد.
سید عظیم مرادی، یکی از زیان دیدگان آتش‌سوزی گمرک اسلام‌قلعه هرات است.
پنج موترش به ارزش ۱۵۰ هزار دالر امریکایی طعمه آتش‌سوزی شد و حالا برای پرداخت جبران خساره لحظه شماری می‌کند: «ما قرضدار هستیم و این موترها را شریکی خریداری کردیم و حالا ۳۰ هزار دالر امریکایی که برای ما جبران خساره می‌دهند، خیلی کم است و من حالا یک لک و ۲۰ هزار دالر تاوان کرده ام. ما خواهشمندیم که دولت جبران خسارهٔ دیگر ما را پرداخت کند که بتوانیم چرخ زندگی خود را به حرکت بیندازیم.»
در آتش‌سوزی گمرک اسلام‌قلعه به تاریخ ۲۵ ماه دلو، به گفتهٔ نمایندهٔ متضرران آتش‌سوزی، بیش از ۱۲۵۰ موتر در آتش سوخت.
در آن زمان یونس قاضی‌زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایه گذاری هرات گفته بود که در آن آتش‌سوزی بیش از یک هزار موتر طعمه حریق شده بود. حالا پس از سه ماه دادخواهی، حکومت افغانستان پذیرفته که ۸ میلیون دالر برای متضرران بپردازد.

## د اټومي انرژۍ اداره: ایران له ټاکلې اندازې ۱٦برابره زیات یورانیم غني کړي




د اټومي انرژۍ نړیواله اداره وايي چې ایران په خپلو څو نااعلان شویو اټومي بټیو کې د یورانیمو د موندل شویو نښو په اړه د وضاحت په ورکولو کې پاتې راغلی او لا هم د ۲۰۱۵ میلادي کال په اټومي تړون کې له ټاکلې اندازې د زیاتو غني شویو یورانیمو تولید ته دوام ورکوي.
له دې سره ښايي هغه مذاکرات له ستونزو سره مخ شي چې د ایران او د نړۍ د شپږو پیاوړو قدرتونو ترمنځ د اټومي تړون د احیا په موخه د اتریش په پلازمېنه ویانا کې پیل شوي دي.
د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې مشر ګروسي په یوه راپور کې ویلي، تهران د هغو اټومي موادو د ذرو په اړه لازم وضاحت نه دی ورکړی، چې د دغه هېواد په دریو اټومي بټیو کې د دې ادارې د تفتیش پر مهال موندل شوي دي.
یادې ادارې په خپل دویم راپور کې اټکل کړی، چې د ایران د غني شویو یورانیمو زېرمې ۳۲۴۱ کیلوګرامو ته رسېږي، چې د اټومي تړون له ټاکلې اندازې شاوخوا ۱٦ ځلې لوړه ده.
وروسته له هغې چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال کې د ایران سره له شوي اټومي تړون څخه د متحده ایالتونو وتل اعلان کړل، ایران له هغو محدودیتونو څخه تدریجي سرغړونې پیل کړې، چې د ۲۰۱۵ز کال په تړون کې یې منلي وو.

## راپورونه: په بلوچستان کې په دوو پېښو کې ۱۲ پاکستاني ځواکونو ته مرګ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، په بلوچستان کې د یو وسله وال برید پر مهال څلور پاکستاني سرتېري وژل شوي او اته نور ټپیان شوي دي. د چارواکو په وینا، پاکستاني سرتېرو ته دغه مرګ ژوبله په دوو جلا جلا بریدونو کې اوښتې ده.
د پاکستان پوځ ویلي چې لومړی برید د کوټې په پیر اسماعیل زیارت کې پر امنیتي پوستې شوی چې پرمهال یې د ایف سي څلور سرتېري وژل شوي او شپږ نور ټپیان شوي دي.
د پوځ د معلوماتو په اساس، د بلوچستان په توربت سیمه کې بیا د سړک غاړې ماین چاودنه کې د ایف سي دوه نور سرتېري ټپیان شوي دي. د پاکستاني چارواکو د معلوماتو په اساس، په لومړي برید کې پنځه وسله وال هم وژل شوي او اته نور ټپیان شوي دي.
په ورته مهال د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په بلوچستان کې پر خپلو سرتېرو برید غندلی دی. عمران خان پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي، چې دوی به په بلوچستان کې د وسله والو پر وړاندې خپلې جګړې ته دوام ورکړي.
د یادونې ده چې تر دې مهاله د دغه وسله وال برید او سړک غاړې ماین چاودنې مسوولیت کومې وسله والې ډلې پر غاړه نه دی اخیستی.


ژوند

## شارپ کمپنۍ خپل نوی موبایل معرفي کړ



شارپ نومې جاپاني کمپنۍ خپل نوی پیاوړی موبایل، اکیوس ارټ، کاروونکو ته معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل د نورو پیاوړو ځانګړنو ترڅنګ پیاوړې کامره هم لري. د دغه موبایل اصلي کامرې کې یو انچ سېنسر کارول شوی، چې تر دې دمه د ځیرکو موبایلونو کامرې کې کارول شوی تر ټولو ستر سېنسر دی. له دې سربېره، اکیوس ارټ د نړۍ لومړنی پرو اېګزو اېل اې ډي ډوله مخپاڼه لرونکی ځیرک موبایل هم دی. دغه ځیرک موبایل کې ٦,٦٧ انچه مخپاڼه ورکړل شوې چې ۲۴۰ هرتز ډاینامېک ریفرېش ریټ څخه ملاتړ کوي. اکیوس ار٦ کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸ ورکړل شوی او ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري. شاتنۍ برخه کې یوه ۲۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره او یو ټي او اېف سېنسر هم لري. مخکینۍ برخه کې ۱۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره لري. د ګوتې نښې سېنسر د مخپاڼې لاندې ورکړل شوې او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري.

## ژور خپګان هم د بډوډو د ناروغیو لامل کېږي



هغه کسان چې ډېر وخت د ژور خپګان له نښو نښانو سره مخ وي، په راتلونکي ژوند کې د ګردو له ستونزو سره ډېر مخ کېږي.
ژور خپګان یوه داسې عامه ستونزه ده چې ډېر خلک ورسره لاس او ګرېوان دي او د همدې ناروغۍ په سبب بیا له نورو ډېرو ذهني او بدني ناروغیو سره مخ کېږي.
له دې وړاندې هم د څېړنو له مخې د ژور خپګان او د ګردو په فعالیتونو کې د کمښت ترمنځ اړیکه موندل شوې وه. خو له دې څېړنې څرګندېږي چې ژور خپګان د ګردو په صحت مندو فعالیتونو تر کومه حده اغېز کوي. څېړونکي وايي چې د څېړنې په پیل کې د ژور خپګان نښې او په راتلونکو کلونو کې د ګردو په فعالیتونو کې د کمښت ترمنځ څرګنده اړیکه شته.
دوی مخکې وايي چې د ژور خپګان پر ناروغانو د ګردو د ناروغیو خطر د نورو په پرتله ۱.۴ ځلې ډېر وي. د ګردو تلپاتې ناروغۍ د زړه د شریانونو له ناروغۍ، د ګردو له کاره لوېدو او د مړینې د خطر ډېرولو لپاره یو مهم عنصر تمامېږي، نو که چېرته یې د خطر ډېرولو عوامل وپېژندل شي، نو له یادو ستونزو ځان ژغورلی شو.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.
1515 www.azizibank.af
عزیزي بانک
Azizi Bank